# د ژبي سيندونه ليکل

اکثر خلک چي د پښتو د ژبنيو مباحثو سره دلچسپي لري وايي: چي بايد د دغي ژبي لغات او کلمات ټول سي او په عصري ډول ئې قواميس وکښل سي.

دا خبره په لومړي نگاه ډېره بسيطه او آسانه معلوميږي خوکه سړی د عمل ميدان ته داخل سي نو ډېره گرانه ده او ډېر لوازم او ضروريات لري چي د هغو ټولو سره غونډول دکلو کلو کار دئ او هم د يوه سړي له لاسه نه ده پوره. که موږ د نورو ژبو تاريخي سير ته وگورو يا د ژبو د ژوندانه مراحل خانته معلوم کړو نو به دا راښکاره سي چي د ژبي لغات او کلمات او ټول مواد غونډول څوني گران کار دئ؟ غو څوني وختونه غواړي؟ د مثال په ډول زه دلته دوو شرقي ژبو ته په يوه تاريخي سترگه گورم: لومړی ژبه عربي ده، چي په شرق کښي خورا ډېره خپره ده، او له دوولس سوه کاله راپه دې خوا روزله کيږي او ايشيايي متفرق ملل ئې په چوپړ اخته دي په دغه دوولس قرنه کښي د دغي ژبي په سوو قواميس کښل سوي دي پخپله عربو او نورو افريقائی او ايشيائي مللو په دغه کار کښي گرانبها آثار کښلي دي، د جوهري لغت او د فيروز ابادي قاموس او د ابن منظور اوفريقي لسان العرب مشهور کتب دي او داسي نور مشهور قواميس هم دا ژبه لري. خو دا ټوله کافي نه دي او د مصر او نورو عربي ممالکو پوهان اوس په دې فکر کښي دي

چي يو (مجمع الغه العربيه) بايد وي او نور عصري قواميس وليکي. د پارسي ژبي د قواميسو ليکنه هم له ډېره وخته څخه شروع ده د اسدي لغت فرس، د پنځمي هجري پېړۍ ليک دئ، او وروسته (السامی فی السامی) او نور د ژبي کوچني او غټ سيندونه ليکل سوي دي دا سلسله تر اوسه جاري ده په نژدو کلو کښي فرهنگ نظام په پنځه جلده کښي چاپ سوئ دئ او په ايران کښي د سعيد نفيسي له خوا يو دايرے المعارف غوندي لغت هم شروع سوئ دئ چي لومړی ټوک ئې ما ليدلئ او دا کتاب علاوه پر عمومي معلوماتو د لغاتو قاموسي ابحاث هم لري.

مقصد مي په دې تذکار کښي دا وُ چي د ژبو د ارتکاء او تکامل سير په سوو سوو کتابو او څو پېړيو مسلسل جهد هم نه پوره کيږي، او هره زمانه ځان له مقتضيات لري چي ژبه له هغو سره بايد ځان برابره کړي، نو ځکه په هره زمانه کښي د ژبو نوي نوي قواميس کښل کيږي، او هر مؤلف غواړي، چي د خپل عصر له احتياجاتو سره د خلکو د استفادې لپاره يو اثر وړاندي کړي.

د پښتو ژبي د لغاتو او کلماتو د ټولولو تاريخ هم پخوانی دئ د احمدشاه بابا په عصر کښي پيرمحمد کاکړ په دې خيال يو څه لغات سره غونډ کړل وروسته د هند د بريلي په روهيل کهنډ کښي د مرحوم حافظ رحمت خان په کورنۍ کښي دا کار شروع سو او د ده زوی الله يار خان بړېڅ په (۱۲۲۸ ھ) عجايب اللغات وکيښ، چي پښتو لغات ئې د هندي او عربي او پارسي سره يو ځای راوړي دي، او د دې کتاب قلمي نسخه د لندن په موزيم کښي سته، او د شرقي آثارو تر (۳۹۹) نمبر لاندي د هملټون په مجموعه کښي ضبط ده.

تر دې وروسته دوو تنو انگليسي پوهانو دوه د پښتو سيندونه وکښل چي هر يو تقريباً لس زره لغات لري او پخپله ژبه انگليسي ئې شرحه کړي دي، لومړی قاموس د راورټي دئ او دوهم د مسټر بيليو



دئ، چي دواړه تقريباً شپېته کاله دمخه چاپ سوي هم دي. تر دې وروسته د پښتو ژبي يو ورک قاموس د (۱۳۰۳ ش) په حدودو کښي پښتو مرکې په کابل کښي کښلئ وُ. چي د دغه کتاب يوه کوچنۍ برخه زما څخه قلمي پاته ده او نوري برخي ئې متاسفانه ورکي سوي او د علم دښمنانو غلا کړي او.. تر دې وروسته يو د پښتو سيند چي تقريباً پنځه زره لغته لري د کابل په مطبعه کښي د ښاغلي مومند له خوا چاپ سو، او بيا د پښتو ټولني د لغاتو څانگي د ښاغلي محمد اعظم ايازي په مشرتوب د پښتو لس زره لغتونه سره راټول کړل او په کوچنۍ تقطيع ئې چاپ کړل.

ها ! يو بيل کتاب هم په پېښور کښي ښاغلي راحت زاخيلي د پښتو لغاتو په نامه له اردو شرح سره چاپ کړئ دئ، چي ډېر غنيمت دئ او تقريباً لس زره لغتونه پکښي خوندي سوي دي چي اکثر ئې د هندي ژبي او پښتو تر منځ مشترک دي.

که تاسي په غور وگورئ زموږ ژبه د لغاتو او کلماتو لامله تر نورو شرقي ژبو پاته نه ده، مگر عربي او پارسي دواړه په سوو سوو سيندونه او لغتونه لري خو زموږ ژبه بدبختانه دغسي پاته ده او تر اوسه دغه اته نه د لغتو ناقص پکښي کښل سوي دي چي هغه هم چاته نه رسيږي، ځيني ورک او ځيني چي چاپ سوي دي هم ناياب دي، که تاسي په بازار کښي وگرزئ، په کتب فروشي کښي ضرور د عربي او پارسي دوه درې جلده د لغاتو کتب موندلای سئ مگر د پښتو دا به يو نه وي، درې څلور کاله پخوا چي د پښتو لس زره لغتونه پښتو ټولني چاپ کړه هغه هم اوس نه پيدا کيږي خلک لی به ليه پسي گرزي.

تاسي به ووایاست چي دا خو د پښتو ټولني وظيفه ده نو چي تاسي کار نه کوئ له نورو څخه گله نسته، مگر دا خبره هم ډېره منطقي نه ده ځکه چي د ژبي جامع قواميس ليکل د يوه يا دوو درو

تنو کار نه دئ د هر ځای او هري خوا لغات او کلمات بايد ببل خلک او ډلي ټولي کړي او په يوه مرکز کښې تر تحقيق او مقابلي لاندي ونيسي، څو چي د ژبي في الجمله مکمل قاموس ترتيب سي. پښتو ټولنه يوه د لغاتو څانگه لري، چي درې څلور تنه کار پکښې کوي، دوی چي هر څوني لغات او کلمات په دغه خپل محيط کښي ټولولای سي، ټولوي ئې، تر اوسه چي موږ په دغه خپل چاپېر کښي لاس و پښي وهلي دي تقريباً د ژبي د شلو تر (۲۵) زرو لغاتو خاوندان سوئ يو، مگر له تجربو څخه راښکاريږي چي دا ژبه خورا ډېر ورک مواد لري، چي ټولول ئې هم آسان کار نه دئ.

د تېر کال په وروستنيو مياشتو کښي موږ يو اقدام وکړ او د پښتو لغاتو د هغو موادو ټولول مو شروع کړه چي زموږ څخه نه وه، په درې څلور مياشتو کښي تقريباً زر (۱۰۰۰) داسي لغات لاس ته راغلل چي موږ هيڅ نه وه اورېدلي، او نه مو په خپلو ذخايرو کښي لرل.

له دې تجربوي اقدامه نو دا نتيجه اخلو: چي د ښارو په چاپېر کښي لا هم ډېر مواد لرو، چي ضبط سوي نه دي که څه لېري ولاړ سو او د غرو او رغو په کښته ژورو کښي وگرزو زه يقين لرم چي په سل کښي شپېته مواد د ضبط قابل دي، او دا ژبه دستي په دستي تر سلو زرو پوري مستعمل او ژوندي، اما منزوی لغات لري، چي راټولول ئې هم ډېره گرزېدنه او پلټنه غواړي.

د ژبي په خصوص کښي زموږ او ټولو پوهانو آمال ډېر وسيع دي او هم په دغه اوميند ژوند کوو چي دا ژبه بايد ژبه کړو، او ټول د عصري ژوند لوازم ورته بشپړ کړو پخپله پښتو ټولنه هم د دغه کار لپاره جوړه سوې ده، او موږ د خپل قدرت او توانه سره بوخت يو.

اوس زموږ د پښتو يو نسبتاً مفصل قاموس په لاس کښي دئ چي څيني برخي ئې فقط طبع او چاپ ته منتظري دي دا کتاب که چاپ سي د پښتو تقريباً پنځه ويشت زره لغات او مصادر او تقريباً لس



زره محاورات او مختلف تعابير پکښي مونډل کيږي او د اوسني عرفاني او مدرسي احتياجاتو لپاره مفيد دي.

مگر زموږ آمال ډېر دي، او په داسي يوه قاموس نه قانع کيږو بايد د دغه قاموس تر طبع او نشر وروسته په يوه بل مهم کار لاس پوري کړو او د پښتو ليکوال او مهم خلک دې لوري ته متوجه کړو چي د ژبي يو غټ او ډېر مفصل قاموس وليکي، د دې آينده مهم امل او غټ اوميدنه نقشه زه داسي د تصور او تخيل پر کاغذه انځور کوم:

۱. دا غټ قاموس بايد د پښتو ټول مستعمل لغات ضبط کړي او دا ډلي به وي:

(الف) د پښتو خپل سوچه لغات
(ب) مغفن لغات او دخيل مواد
(ج) د پارسو او هندي ژبو سره مشترک لغات
(د) د ژبي اصطلاحات او محاورات او مخصوص تعابير او ترمونه
(هـ) مصادر
(و) روابط، ادات، حروف، لواحق، سوابق
(ز) د پښتو مخصوص اعلام او نومونه
(ح) د پښتو هغه لغات او کلمات چي متروک سوي دي، او پخوا مستعمل وه او نور، نور...

۲. د شرح او تفصيل لامله بايد دا مواد مراعات سي:

(الف) د لغاتو حرکات او صوتي خصايص
(ب) د لغاتو او کلماتو گرامري هويت او کيفيت
(ج) په ژبه کښي د استعمال مختلف موارد
(د) د لغاتو د اوښتني او تغيراتو موارد د استعمال لامله
(هـ) محاوروي استعمال د مثاله سره
(و) ادبي استعمال له ادبي مثالو سره د پخوانو اوستادانو له کلامه

(ز) د لغت ريښه معلومول او د مقايسوي فيلالوژۍ لامله ئې تحقيق، او که ممکنه وي د کلمې تاريخي تحول د معنا او لفظ لامله ښوول.

(ح) مغن او دخيل کلمات خپل اصل ته رجع کول او د هغـو د تحول لاره ښوول، او د خپل اصل لامله ئې تشريح کول.

(ط) د کلماتو صحيحه او داسې املا ضـبطول چـې هغـه د ويلـو لامله آسانه وي.

(ی) د کلماتولهجـوي اشـکال ضـبطول، او مرادفـات ښـوول، او معياری اصل ته رجوع ورکول.

په دې ډول زه د پښتو د آينده بشپړ سيند يوه تقريبي نقشه پښتنـو ورونيو ته وړاندې کوم ښايي چې دا کـار د ځينـو اسـبابو لاملـه ډېـر سخت هم وي ځکه زما دا عقيده ده چې ليکوال ئې بايـد اقـلاً پـه پاړسو، عربي، او هم سنسکريت او اوسـتا او پهلـوي کښـې معلومـات ولري او هم داسې علمي کتب او آثـار موجـود وي چـې د لغـاتو د مقايسوي تطبيقاتو پر وخت کار ځيني واخلي، او هر لغت په صـحيح ډول خپل اصل ته رجع کړي، او ډېر اوهام چې د پښتو په خصـوص کښې موجود سوي دي له منځه وباسي.

د پښتو ټولنې او ټولو ليکوالو او پښتنو اوسنۍ وظيفه دا ده چې د دغه مفصل قاموس لپاره مواد راغونډ کړي يعنی د ژبـې مسـتعمل او نامسـتعمل لغات او کلمات له هري خوا سره راټول کړي او پـه هـره گوښـه او گـوټ کښې پسې وگرزي، حرکات او معانی ئې ضبط کړي وروسته به نو لـه دغـو موادو څخه يو علمي هينت کار واخيستلای سي او وبه کړای سي چې پـر دغو يوه مقايسوي کتنه وکړي، هغه وخت نو د پيرمحمد کاکړ يو څو لغتونه او د راورټي لغت او د پښتو ټولنې ذخاير او د پښتو سيند او د زاخيلي لغات ټول په کار ورځي، او د دغو څو تنو د مشکور جهد او سعی نتيجه به هم د مفصل قاموس ليکوال ووينې او خپلو سابقينو ته به دعا کوي او دوی به په ښه نامه يادوي. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۴ لمريز کال، ۳يمه گڼه، ۱ ـ ۳ مخونه